**دمقالی لیکونکی** : پاول کریگ رابرت (Paul Craig Roberts) .
**منبع او دنشریدو نیته** : انفارمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۵-۱۲-۸»
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

## جنګ اوس دآسمان ترلمنی پوری رسیدلی : آیا ناوخته شوی نه دی چی جګړه ودرول شی ؟

*War is On the Horizon : Is It Too Late To Stop It ?*

***د د سمبر میا شت اتم کال (۲۰۱۵): یوه نه هیریدونکی لوست یا درس چی د نظامی تاریخ څخه باید تر لاسه شی هغه جګړی ته له روانیدو څخه د مخه باید د یو لنډی شیبی د پا ره پر خپل ځا ن کنترول خپل کړی یعنی خپل قهر اوغضب باندی واک وسا تی .***

*داهغه څه دی کوم چی په نا پیژند لی بڼی سره زمونږ د سترګو پرورإندی په لاره ولوید لی :*

*د روسیی جمهور ریس بشاغلی ولادیمیر پوتین د ملګرو ملتونو داویاوم کلیزی په عمومی غونډه کی دخپل وینا په یوه برخه کی په ډاګه وویل : د نړی د بین المللی په منا سبا تو او روابطو کی نور دزعم ځای پا تی نه دی چی نړی دغه روان اړ دوړی او حالت وزغمی . دوه ورځې وروسته له هغه کوم چی دسوریی دولت له روسیی څخه مرسته وغوښتل اود روسیی ته بلنه ورکړ چی دسوریی سره نظامی مرستی وکړی - روسیه دداعش یا د عراق اود سوریی داسلامی دولت (ISIS) پر ضد په جګړه لاس پوری کړ .*

*روسانو په ډیر بیړه سره دعراق اوسوریی داسلامی دولت دسلاحګانو اود هغو دنظامی مهماتو تول زیرمی او ډیپوګانی یود بل پسی تخریب او له مینځه ویوړل اود سوریی د نظا میا نو سره دلاسه تللی سیمو په بیرته رانیول کی ستر مرستی ترسره کړل او دداعش جګړه مارو ته پریکړنی ماتی ورکړل روسانو همدارنګه په زرونو هغه دتیلو ټانکرونه له مینځه ویوړل اود خاوری سره خاوری کړل کوم چی له سوریی څخه تیل ترکیی ته وړل اودترکیی*

د کا نګسترو حکمرانا نو پر کورنییو با ندی خرڅول او په دی بنه خپل اقتصا دی بنیه یی تقویه کول اویا د دغه تیلو له خرڅو لو څخه په میلینونو ډالر تر لاسه کول اوپرهغه پیسو با ندی جنګی مهمات اوسلاحګا نی را نیول.
واشنګتن دروسیی ددغه بیړنی پریکړی په اړه دچوپ اوچوپتیا سره مخامخ اوپه ویره کی ولوید ل اوهغه داچی روسا نو څنګه زر وتوانید ل چی داسی پریکړنی بریالیتوبونه تر لاسه کړ نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره واشنګتن اودهغه تا بع اوفرما ن وړونکی ځواک یعنی د نا تو (NATO) د سستی اود تشویش زمینه برابره کړ کوم چی هغوی په ډاګه سره د«اسد» د مخالفینو سره مرستی کول یعنی له دی نه چی د«اسد » مخالفینو سره بیدریغه مرستی تر سره کول ونتوانید ل چی خپل ستراتیژیکی اهداف ته ورسیږی نو په همدی دلیل سره هغوی ته یو څه دلسردی راپیداشو نو ددی دپاره چی له خپل ورانکاری څخه بیرته پا تی نشی نو سمدلاسه د خپل ترلاس لاندی په کیف (Kieve) کی ګوډاګی حکومت ته آمر وکړ چی پرروسا نو باندی فشار واچوی چی که په دی صورت سره دروسا نو پام له سوریی څخه د اوکراین حالاتو ته واړوی . اوپه عین حال کی همدغه دواشنګتن چاروا کی وه چی بی دهغه پرتوکول د مندرجا تو په نظرکی نیولو سره کوم چی د روسی ، واشنګتن اودنیا تو(NATO) ترمینځ په هوا اود روسی الوتکو دپروازپه حریم کی دالوتکو د نه تیکر کیدو د پاره تعهد نا مه لاس لیک شوی وه بیاهم ترکیی ته هد ا یت ورکړ چی دروسی جنګی الوتکی باندی ډزی وکړی او الوتکه رانسکور کړی کوم چی ترکیه همدغه هدایت تر سره کړ اود روسیی جنګی الوتکه یی په ډزو سره دسوریی دخاوری په دننه کی وغورځول .
واشنګتن د ټول منل شوی مسولیتونو په انکارسره بیاهم دترکیی ددغه ناسم چلند څخه دبی اعتنای سیا ست غوره کړ اودهغه په اړه یو ډول سست اونیګړی عکس العمل وښود ل او په ضمن کی ترکی ته شین څراغ روښا نه کړ او دترکیی مقا ما تو ته وویل چی د روسیی څخه د خپل عمل په بدل کی معذرت ونه غواړی او زمینه دی ته برابر کړی چی آروپایی هیوادونه په دی راوګرځوی یا هغوی قانع کړی چی دا روسیه یا دغه کاغذی ببر دی چی په دی ډول اعما لو لاس پوری کوی اودغرب د مید یا په خوله کی د کاغذی ببر لاش اومړی وردننه کړ اوهغه داچی روسیه کاغذی ببر دی : http://www

.wsj.com / articles/turkey-shoots-down-a-paper –tiger-1448406008 .

دروسیی د حکومت سست عکس العمل دهغه تحریک په مقابل کی چی دواشنګټن په هدایت سره په کار وړل شوی وه اوداروپایی هیوادونو دډادګیرنی په اړین یی هڅه وکړچی هغوی ته ووایی چی که پرروسسی باندی په دوامدار بڼی سره په مینځنی ختیځ - اوکراین - جورجیا – ما نتنیګرو او په ځنی نورو ځا یونو کی دوامدار فشار راوړل شی باید دکوم خطر احساس ونکړی نو دهمدی دلیل په نظرکی نیولو سره د واشنګټن یرغل د « بشر الاسد » پر نظا می قوتونو با ندی ددی د پا ره ترسره کیږی کوم چی واشنګټن وشی کړلی چی د خپل اروپا یی متحد ینو با ورونه له سره بشپړ کړی او دهغو په اذهانو کی داسی القا وکړی چی روسیه په مسولانه بڼی سره غواړی له جګړی څخه اجتناب وکړی کوم چی دا پخپله د ډار او د کمزورتیا نښی اونښانی دی.
دا لاتر اوسه ندی معلوم چی دروسیی اودچین حکومتونه تر کوم حد او اندازی سره په دی سره پوه شوی دی چی دهغوی آزاد سیاسیی تګ لاره د هغوی د جمهورو ریسا نو پواسطه سره د سپتمبر په (۲۸) نیټه کی د واشنګټن د موجوده ګواښ اودهغه دهژمونی یا دبرلاسی په مقابل کی بیا له سره تا ید او ټینګ شوی دي .
دامریکی دمتحده ا یالاتو د با ند نی سیا ست اساس او بنسټ په دی تعهد او اودریځ باندی ولاړ دی چی دیو طرفه کړنی څخه د محدودیتونه دراوړلو توان ولری نو دهمدی نظر په لرلو سره دواشنګټن ستر هدف دادی چی دچین اود روسیی یعنی د دواړو نوموړی هیوادونو دقدرت د محدودولو توان لا پسی پیاوړی کړی .
واشنګټن دتروررزم په مقابل کی خنډ او ما نع نه دی ! واشنګټن د خپل ځانګړی ګټی اومقاصدو دپاره له ډیروتیرو اوږد کلونه څخه تروریزم رامینځته کړی تروریزم دواشنګټن دپاره یو سلاح دی اوغواړی چی دغه سلاح روسی او چین ته ور ولیږی کوم چی د همدی سلاح پواسطه سره روسیه او چین بی ثبا ته اوګډوډ کړی.
دبلی خوا څخه واشنګټن لکه همغسی چی اوکراین پکار وړی غواړی چی سوریه دروسیی دکمزوره کولو په نیت پکار ویسی یعنی همدا راز غواړی

چی روسیه چین ته دیو کمزوری متحد په بنه ور وپیژنی .
دیا دونی بل مهم مطلب دا چی روسیه په مسولانه توگه سره دواشنگټن د تحریکا تو په مقابل کی د کمزوری غبرگون په ښودلو سره واشنگټن وهڅول چی دخپل تحریکا تو لمن لا پسی پراخه کړی .
یا په بل عبا رت سره واشنگټن اود هغه پوری تړلی ساده لوح اروپایی فرمان وړونکی متحد ین غواړی چی د نړی خلک داسی یو خطرناک حا لت سره مخامخ کړی چی دهغه څخه خلاصون غیر ممکن وګرځوی نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره واشنگټن غواړی روس اوچین دی ته اړ کړی چی یا دواشنگټن څخه متا بعت وکړی اویا د جګړی د پاره چمتوالی ونیسی .
همدارنگه بایدوویل شی او هغه داچی :له دی نه چی ښاغلی «پوتین» دانسان اودانسا ن ژوند ته نسبت دواشنگټن اودهغه پوری دتړلی فرمانوړونکی اروپایی هیوادونو څخه ډیر درنا وی کوی اودانسان دارزښت په مفهوم نسبت واشنگټن نه ډیر ښه پوهیږی ددرناوی اوداحترام وړ شخصیت دی چی ددی اصل ثبوت دپوتین هغه د یادونی نرم برخورد د واشنگټن د تحریکاتوپه مقابل کی دی چی د نوموړی تحریکا توپه مقا بل کی له جګړی او نظامی برخورد څخه مخنیوی وکړ او له ځا نه شد یدغبرگون ونه ښودل - بی ویلو دی پاتی نشی او هغه داچی روسیه با ید یوڅه ترسره کړی چی د هغی په رڼا کی د نا تو غړو هیوادونه وپوهوی چی په واشنگټن کی را تولید نه او په هغه ځای کی په ګډه سره دروسیی په مقابل کی دهرډول دسیسی اود توطیی بند وبست به ډیر خطرناک پایلی ولری د بیلگی په بڼه: هغوی په دی هڅه کی دی چی روسیه باید پریکړه وکړی چی خپل انرژی پر اروپا یی هیوا دونو با ندی ونه پلوری اواروپایی هیوادونو ته هم څه اهمیت نه لری چی د روسیی څخه انرژی تر لاسه کړی داهغه شا ن دسیسه دی چی دا پخبله په عملی بڼی سره دروسیی سره جنګ اوجګړه دی . اودروسی سره داسی تحریک آمیز برخورد باید ترسره شي چی دروسیی حکومت په ژمی کی د «نا تو » پر غړو هیوادونو باندی خپل انرژی ونه پلوری او دانرژی لیږل ودروی کوم چی په دی شان سره به روسیه پیسی دلاسه ورکړی اودا پخپله سره له دی چی روسی ته نظر ودی ته چی روسیه په نړیواله کچه سره خپل اقتدار دلاسه ورکړی اویا په جګړه کی ناکامه شی ارزان ولویږی .

بله مهمه موضوع اویا د غرب بله دسیسه داچی په اوکراین کی د شخړی د لمن نه محدودول دی اویا په اوکراین کی د ا روپایی هیوادونو په ونډه اخیستو سره دجګړی لمن لاپسی پراخول او یا جګړی ته شد ت ورکول په دی نیت چی روسیه مجبور شی د بیلتون غوښتونکی ِغوښتنی ته غا ړه کیږدی یعنی هغو کوم چی دروسیی سره یوځای شوی دی یا روسیه دهغوی خاوره دروسی دخاوری سره ضمیمه کړی دی اوپه کیف کی دجګړی دوام باید دی حد ته ورسیږی چی اوکراین پخپله پر روسیی باندی یرغل وکړی .

دروسی حکومت دملی احساس دمسولیت له مخی( نه دواشنګټن دتحریکاتو په مقابل کی دغبرګون ښودل) باید داروپایی هیوادونو سره دهغوی داحساس اویا دهغوی دملی ګټنی به نظر کی نیولو سره ریښتنی دیپلوماتیک چلن تر سره کړی چی دهمدی دیپلو ما تیکی چلن په رڼا کی هغوی د واشنګټن د نفوذ څخه ځان آزاد کړی او هغوی یعنی اروپایی هیوادونه داسی سیاست غوره کړی چی په فعاله بڼی سره د واشنګټن د هژمونی په مخه کی خنډ شی اودواشنګټن دز هرجن تبلیغا تو تر اغیزی لاندی ونه ولویږی لکه دا چی واشنګټن وایی یا داسی تبلیغ کوی چی دروسیی پالیسی یوه ناکامه اومات سیاست دی - د روسی احساس د مسولیت د تنبها تو په مقابل کی ډیر ښکته او کمزوره دی هغه یعنی واشنګټن په تکرار سره وایی چی روسیه یو کاغذی ببر دی اوله هغه څخه ډار نه دی پکار داهغه تبلیغات دی چی واشنګټن اودهغه مزدور میدیا داسی تبلیغات تر سره کوی چی آروپایی هیوادونه باید د داسی تبلیغا تو تر اغیزی لاندی ونه ولویږی .

دبلی خوا څخه غربی نړی په ډاګه داسی وایی : مونږ دضدونقیض دپالیسی پخپلولو سره روسی ته دافرصت ورکووچی ځان دجګړی څخه څنګه سانی له هغه جګړی څخه چی په روښا نه بني سره په لاره کی دی اوله هغه څخه خلاصون نشته .

داچی ایا دروسی مید یا یا ډله ایز رسا نی - دروسیی خلک اویا په مجموع کی دروسیی حکومت په دی ځان پو هولی دی اوکه نه ؟ اوبیا په ځانګړی بڼی سره دروسیی نظامی قوتونه په دی پوه شوی دی اوکه نه ؟ نو په دی وجهه لازم ګڼل کیږی چی دروسی تول نظا می رهبران خان په دی ښه پوه کړی چی هغه ترکیبی نظامی قوتونه کوم چی « نا تو» سوریی ته د داعش یا دعراق

اوسوریی داسلامی دولت د جګړه ما رانو دځیلو تر نامه لاندی لیږلی دی دکاسی لاندی بله کاسه دی لکه چی جورج ابرت ( George Abert)داسی وایی :دامریکی –فرانسه اود بریتانیا د جنګی الوتکی پیلوټانو ته هدایت ورکړل شوی چی دسوریی په فضاکی دروسیی دجیټو سره دجیټونه دجنګ کولو دپاره ځان چمتو کړی نه دځمکنی جګړی د پا ره ؟ دغه دغربی لیږل شوی هوایی جیټونه ابدأ پرداعش اود هغو په جګړه مارانو اود هغو په بارکونواواډو باندی بمب نه غورځوی بلکه دغه دغربی هوایی قوتونه دروسی دپیلوټانو د ډارولول دپاره لیږل شوی دی یعنی دروسیی هغه قوتونه کوم چی د داعش پرتم ځایونو او اډو باندی چی د ځمکی په مخ کی پروت دی بمب غورځوی کوم چی غربیان یی په ویره کی اچولی او دهمدی اصل په نظر کی نیولوسره غربی هیوادونه اودهغوی په سرکی دامریکی دمتحده ایالاتوجګړه مار حلقی غواړی چی په یو اویا بل شکل سره روسیه تحریک کړی چی دهغوی سره په جګړه لاس پوری کړی ؟

دلته هیڅ د شک اود شبهی ځای نه ترسترګو کیږی اوهغه داچی واشنګټن په دی لټه کی دی چی نړی غواړی اخرت اودقیامت ورځی پر لور وهڅوی یا یی وروداننګی کوم چی د واشنګټن دغه شوم هد ف د هغه د فرما نوړونکی اروپایی هیوادونو په ونډه اخیستو سره تر سره کیدای شی یعنی واشنګټن کولای شی چی اروپایی چوپړ هیوادونه اوبیا په ځانګړی بڼی سره جرمنی – فرانسه او بریتانیا دخپل هدف دپاره مفت اود پیسیو څخه پرته وکا روی اود بلی خوا څخه واشنګټن په ډیر بی اعتنا یی سره په دی با ور دی چی دغه هیوادونه نا پوه - کمزوری اوپه هیڅ صورت سره د واشنګټن د منګلو څخه دخلا صون لار نه لری ترهغه پوری چی دغه هیوادونه د روسیی له خوا له دروند خوب څخه راویښن نشی او تر هغه چی دغه اروپای هیوادونه دخوب څخه را ویښن نشی نړی د پرتګاه (کندی) خواته په مخه ځی ځکه چی جنګ او جګړه د ا مریکی له خوا حتمأ تحمیل کیږی چی په هغه صورت کی اروپا یی هیوادونه هم دجګړی څخه ځا ن نشی خلاصولی اویا هغوی یعنی اروپا یی هیواد ونه نشی کولی چی د جګړی څخه ډډه وکړی .

په اخرکی باید وویل شی اوهغه دا چی ترڅو دغه احمق اوشیطان صفت جګړه غوښتونکی نوی محافظه کاران (Neocons) کوم چی د واشنګټن پر

حکومت با ندی پوره تسلط لری له قدرت ثخه و نه ولویږی ( **پوتین** ) نشی کولای چی د واشنګټن له تحمیلی جګړی ثخه ځان وژغوری .

-------------------------------- **په سلامونو سره**